# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پریکړه لیک

| | |
|---|---|
| د پریکړې شمېره: | ۰۲- ۱۳۹۳ |
| موضوع: | د رای ورکولو د مشکوکو مرکزونو او محلونو د رایو پلټنه او بیا شمېرنه. |
| مرجع: | د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشا |
| د غونډې نېټه او ځای: | ۱۳۹۳ه دحمل ۲۳ (۲۰۱۴ م د اپریل ۱۲)، د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| حاضر غړي: | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستانی، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، اغلې گلالی اڅکزی، ښاغلی سریر احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسین گرزیواني، ښاغلی محمد عزیز بختیاري، ښاغلی قاضي سلیمان حامد، اغلې لیلا احراري او اغلې شریفه زرمتی وردک. |

**د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو قانون د ۵۸ مادې او د ۵۹ مادې (۱)فقرې حکمونو ته په پام پریکړه وکړه چې:**

۱. هغه محلونه چې د سپینو، باطلو، ضایع شویو او کارول شویو پاڼو مجموعه یې له ۶۰۰ پاڼو څخه زیاته وي، د ۱% تحمل په منلو دې بیا وشمېرل شي؛
۲. د کومو محلونو د پایلو فورمه چې د محل ریس ټاپه او لاسلیک کړې نه وي، نو و دې پلټل شي؛
۳. د کومو محلونو د پایلو فورمه چې ټاپه او حدل اقل دو څارونکو لاسلیک کړې وي، که د محل ریس لاسلیک کړې هم نه وي، ستونزه نه لري ، نه پلټل کېږي او نه هم بیا شمېرل کېږي، خو که څارونکو د پایلو فورمه نه وي لاسلیک کړې، د یادو محلونو رایې دې وپلټل شي؛
۴. په پایلو فورمه کې په عدد او تورو لیکل شویو رایو کې د تفاوت او تناقض په صورت کې، که د رایو رقم په تورو له ۶۰۰ څخه زیات وي، عدد ته دې اعتبار ورکړل شي، له دې مه واره دې تورو ته اعتبار ورکړل شي؛
۵. د ښار په داخل کې د رای ورکولو هغه شمېر مرکزونه چې د ماسپښین له ۱۲ بجو دمخه ورته نوی محل پرانیستل شوی وي، ودې پلټل شي ؛
۶. په لیرې او له ښاره دباندې د رای ورکولو هغو مرکزونو کې چې د ماسپښین له ۱۲ بجو دمخه یا وروسته په کې نوی محل اضافه شوی وي، و دې پلټل شي؛

۷. په هغه صورت کې چې ۶۰۰ رایې د مشخصو نوماندانو تر منځ برابرې ویشل شوې وي، یادې رایې دې وپلټل شي؛

۸. د رای ورکولو هغه مرکزونه او محلونه چې په اړه یې د کمیسیون د ساحوي مسوولینو، څارونکواو کتونکو له لوري د د کمیسیون د کارکوونکو د بې نظمیو، تهدید او وهلو په اړه راپورونه برابر شوي وي، د رایو صندوقونه دې یې وپلټل شي ؛

۹. د رای ورکولو د هغو مرکزونو د پایلو فورمې چې د کمیسیون له محافظتي کڅوړې پرته، د پایلو راټولولو ملي مرکز ته رسېدلي وي، د تصمیم نیولو په موخه دې کمیسیون ته وړاندې شي؛

۱۰. د رای ورکولو محلونو پایلې چې د کمیسیون پایلو له فورمو مه واره په عادي پاڼو کې ثبت شوې وي، سره له دې چې د محل ریس او څارونکو هم لاسلیک او ټاپه کړې وي، باطلې ګڼل کېږي، که د یو محل پایلې په رای پاڼو کې ثبت شوې وي، د شمېرلو بهیر کې نه شاملېږي او د تصمیم نیولو په موخه کمیسیون ته وړاندې کېږي؛ او

۱۱. په هغه صورت کې چې د دو محلونو د رایو پایلې د پایلو په یوه فورمه کې ثبت شوې وي، دغسې پېښې په انفرادي توګه د تصمیم نیولو په موخه کمیسیون ته وړاندې شي. په هغه صورت کې چې د ټاپې او د محل د ریس او څارونکو لاسلیک تخریب شوی او یا د لیدلو وړ نه وي، په هغه کې ثبت رایې باطلېږي.

| له پرېکړې سره موافق | غړي | له پرېکړې سره مخالف |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکي | |
| | اغلې ګلالی اڅکزی | |
| | ښاغلی سریر احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلیمان حامد | |
| | اغلې لیلا احراري | |
| | اغلې شریفه زرمتی وردک | |